United Nations High Commissioner for Refugees
Haut Commissariat des Nations Unies pour les réfugiés

# د کورني بې ځايه

# کيدو په اړوند د ملګرو ملتونو لارښوونکي اصول


UNHCR/2009

د کدوالو لپاره د ملگرو ملتونو عالی کمشنری
افغانستان
۱۳۸۸

# سریزه

ښاغلی فرانسس ام. دینګ
د کورنیو بې ځایه شویو په چارو کې د
ملګرو ملتونو د سر منشي استازی

هغه په یاد پاتیدوکیدونکي دنده چې د ملګرو ملتونو سازمان ورسره مخ دي، د هغو افردو ملاتړ دی چې د تاو تریخوالو لرونکو جګړو، د بشر له حقونو څخه د تیري او نورو زړه بوږنوونکو پیښنو په پایلو کې، له خپلو اصلي ټاټوبو څخه جبرا شړل شوي، مګر د خپل هېواد د پولو د ننه ژوند کوي. هغوی د ټل لپاره سخت محرومیتونه، ستونزې او توپیر لرونکې کړنې زغملي دي. د دې ننګونې سره د مقابلې په منظور د کورنیو بې ځایه شویو په اړه لار ښوونکي اصول جوړ شوي دي.

دا اصول په ټولو پړاوونو کې د کورنیو بې ځایه شویو د حقونو او په هغوی پوري د ملاتړ د اړوندو ضمانتونو پیژندنه کوي. دا اصول د اجباري بې ځایه کیدو پر ضد ساتنه کوي، د بې ځایه کیدو په جریان کې یې د مرستې او ملاتړ بنسټ ایښی او په امن د بیرته ستنیدو، پرځای کیدو او استقرار لپاره یې د ضمانت وړاندیز کوي. سره له دې چې د دې اصولو منل حتمي نه دي، مګر د بشر د حقونو له نړیوال قانون، له نړیوال بشري قانون او د پناه وړنې له قانون سره سمون لري او غبرګون یې کوي.

وروسته تر هغه چې د بشر د حقونو د کمیسیون له لوري په ۱۹۹۲ زیږدي کال کې ماته د کورنیو بې ځایه شویو په اړه دنده وسپارل شوه او د ملګرو ملتونو د عمومي مجمعي او د کمیسیون ورپسې پریکړه لیکونو د ټینګار له امله، د څو کلونو په اوږدو کې دا

لاربښونکي اصول جوړ شول. په پیل کې له ما څخه غوښتنه وشوه څو د کورنیو بې کیدو پایلې او دلیلونه، په نړیوالو قوانینو کې د کورنیو بې ځایه شویو موقف، د اوسنیو رسمي ترتیباتو مطابق د کورنیو بې ځایه شویو اړتیاوو ته د ځواب ویلو کچه او کورنیو بې ځایه شویو ته د مرستو د رسولو د ښه کولو چلندونه او له هغوی څخه ملاتړ تر څیړنې لاندې ونیسم.

له همدې امله، د کورنیو بې ځایه شویو لپاره د اړتیا وړ حقوقي بنسټیز چوکاټ د را منځته کولو او په دې اړوند په خبرو اترو کې د دولتونو او نورو اړوندو لاس لرونکو د شریکولو په منظورله هېوادونو څخه لیدنې زما د ماموریت لوی فعالیتونه تشکیل کړی دي. ما د حقوقي کار پوهانو د یوه نړیوال تیم په همکاری، د نړیوالو قوانینو پوسیله د کورنیو بې ځایه شویو د پوښښ دایره تر ارزونې لاندې ونیوله او د "حقوقي نورمونو تحلیل او تدوین" مې برابر کړ. څیړنو وښوده په داسې حال کې چې شته قوانین، کورنې بې ځایه شوي په پراخه توګه تر پوښښ لاندې راولي، نورې مهمې برخې هم شتون لري چې دا قوانین نه شي کولی د کورنیو بې ځایه شویو د ملاتړ او مرستې لپاره یو مناسب بنسټ برابر کړي. په پایله کې، د بشر د حقونو کمیسیون او د ملګرو ملتونو مجمعې له ما څخه غوښتنه وکړه څو د کورنیو بې ځایه شویو لپاره یو مناسب قانوني چوکاټ جوړ کړم. دا کار د لاښونکي اصولو د تسویدولو سبب شو چې شته نورمونه یې څرګند او د تیارو (پټو) برخو د روښانه کولو او تشې (خلا) د ډکولو هڅه کوي.

وروسته تر هغه چې ما د کورنیو بې ځایه شویو په اړوند لاربښونکې اصول په ۱۹۹۸ زیږدي کال کې کمیسیون ته وړاندې کړل، کمسیون د دې اصولو او د ملګرو ملتونو د سر منشي په توګه زما بیان شوې قصد ته په پاملرنې سره چې له دولتونو او ټولو اړوندو لاس لرونکو سره چې ماموریتونه او فعالیتونه یې د کورنیو بې ځایه

شویو د اړتیاوو په اړوند دي، د بحثونو پر مهال ددې اصولو نه ګټه واخلم، یو بریکړه لیک صادر کړ. همداراز کمیسیون د ملګرو ملتونو د ادارو تر منځ د دایمي کمېټې تصمیم ته پاملرنه وکړه چې لارښونکې اصول یې تایید کړي او خپل غړي یې تشویق کړي څو هغه له مدیره پلاوو او خپلو کارکوونکو سره، په ځانګړې توګه په سیمو کې شریک کړي او د کورنیو بې ځایه شویو په اړوند یې پخپلو فعالیتونو کې پلي کړي.

د بې ځایه کیدو په اړه لارښونکي اصول، باید دولتونو، نورو واکمنو مقامونو، دولتي او نا دولتي سازمانونو ته، د کورنیو بې ځایه شویو په اړوند فعالیتونو کې، عملي لار ښوونې برابرې کړي. هیله من یم چې د لارښوونې دا اصول په پراخه توګه خپاره او په ساحه کې پلي شي.

د 2001 کال د جون میاشت

# د کورني بې ځايه کيدو په اړوند د ملګرو ملتونو لارښوونکي اصول
## سريزه: اړخونه او موخه

1. دا لار ښوونکي اصول په ټوله نړۍ کې د کورنيو بې ځايه شويو ځانګړيو اړتياوو ته ځواب وايي. ياد شوي اصول د اجباري بې ځايه کيدو نه د وګړو د ساتنې، د بې ځايه کېدو پر مهال له هغوی سره د مرستې او ملاتړ او همداراز د هغوی د بيرته ستنيدلو، بل ځای ميشته کيدو او بيا استقرار په اړه د ضمانتونو او حقونو پيژندنه کوي.
2. په دې اصولو کې له کورنيو بې ځايه شويو څخه منظور، هغه کسان يا د کسانو ډله ده چې له خپلو دايمي استوګن ځايونو، کورونو او سيمو څخه په جبري توګه، په ځانګړې توګه د جګړې په پايله کې يا له جګړې څخه د راپيښيدونکو زيانونو له وېرې، د تاو تريخوالي له عمومي وضعې، د بشر د حقونو له ماتولو يا د طبيعي پيښو او يا د بشر پوسيله د رامنځ ته پيښو له امله تيښتې ته اړ شوي، مګر د يوه هېواد له نړيوالې پيژندل شوې پولې څخه نه وي اوښتي.
3. دا اصول د بشر د نړيوالو حقونو د قانون يا د نړيوالو بشري قوانينو انعکاس کونکي دي او ورسره سمون لري. د ا اصول لاندې مرا جعو ته لارښوونه کوي:

الف: د خپل ماموريت د ترسره کولو په لار کې د بې ځايه شويو په چارو کې د سر منشي استازی؛

ب: دولتونه، هغه مهال چې د کورنيو مهاجرتونو له پديدې سره مخ کيږي؛

ج: له کورنیو بې ځایه شویو سره په اړیکو کې، ټولې نورې اداري، ډلې او اشخاص؛ او
د: یین الحکومتي او غیر حکومتي موسسې، کله چې د کورنیو بې ځایه شویو چارو ته پاملرنه کوي.

۴. دا اصول باید په براخه توګه خپاره او پلي شي.

# لومړی فصل
# عمومي اصول

**لومړی اصل**

۱ـ کورني بې ځايه شوې کسان دې له يو شان حقونو او آزاديو څخه په پوره برابره توګه چې د يو هيواد نور افراد د ملي او نړيوالو قوانينو مطابق، ترې برخمن کيږي، برخمن شي. له هغوی سره د ې د کورني بې ځايه کيدو له امله د هغوی په حقونو او ازاديو کې له توپير څخه کار وانخستل شي.

۲ـ دا اصول د نړيوالو حقونو پر بنسټ د افرادو جرمي مسووليت، په ځانګړې توګه د نسل وژنې په اړه، د بشر ضد جرمونه او جنګي جرمونه نه ساقطوي.

**دويم اصل**

۱ـ دا اصول دې د ټولو ادارو، ډلو او اشخاصو په وسيله، پرته د هغوی حقوقي موقف ته له کتنې څخه، رعايت او پرته له هر ډول امتياز څخه تطبيق شي.

د دې اصولو رعايتول بايد د کومو ادارو، ډلو او اشخاصو پر حقوقي حالت اغيزه ونکړي.

۲ـ دا اصول دې به پدې ډول تفسير نه شي چې د بشرحقونو د نړيوالو سندونو حکمونه يا نړيوال بشري حقونه يا ورکړل شوی کورني حقونه؛ محدود، تعديل يا کمزوري کړي.

په ځانګړې توګه، دا اصول په نورو هيوادونوکې د پناه غوښتلواو له هغه څخه د برخمن کيدلو حق نه ساقطوي.

**دریم اصل**

۱ـ ملي اداري کورنیو بې ځایه شویو ته د مرستو په برابرولو کې لومړۍ درجه دنده او مسوولیت او پخپله خاوره کې د هغوی ملاتړ پر غاړه لري.

۲ـ کورني بې ځایه شوي لدې ادارو څخه د ملاتړ او بشري مرستو د ترلاسه کولو د غوښتنې حق لری. هغوی باید د دې ډول غوښتنې له امله تر ځورولو او سزا ورکولو لاندې و نه نیول شي.

**څلورم اصل**

۱ـ دا اصول باید پرته له هرډول توپیرڅخه چې، د نژاد، رنګ، جنسیت، ژبې، مذهب یا عقیدې، سیاسي نظر یا نورو نظرونو؛ ملي، قومي، او ټولنیزه منشا، حقوقي او ټولنیز موقف، عمر(سن)، معیوبیت، ملکیت، پیدایښت او دا ډول نورو معیارونو، پر بنسټ وي، تطبیق شي.

۲ـ ځانګړي بې ځایه شوي اشخاص لکه، ماشومان، په ځانګړې توګه بې سرپرسته ماشومان، حامله میندې، له کوچنیو ماشومانو سره میندې، د کورنیو مسوولیت لرونکې ښځې معیوب اشخاص او د ډیر عمر لرونکې دې د هغې مرستې او ملاتړ چې د هغوي له حال سره سمون لري او د هغوي ځانګړو اړتیاوو ته ځواب ویونکي وي، مستحق وپیژندل شي.

# دویم فصل
# د بې ځایه کیدو پر وړاندې د ملاتړ اړوند اصول

**پنځم اصل**
ټولې اداري او نړیوال بنسټونه دي د هغو شرایطو د مخنیوي او له هغو څخه د لیرې والي په منظور؛ چې د افرادو د بې ځایه کیدو سبب شي، باید خپل مکلفیتونه د نړیوالو قوانینو له هغې جملې څخه د بشر د حقونو او د نړیوال بشري قانون مطابق، په هر ډول شرایطو کې رعایت او درناوې یې وکړې.

**شپږم اصل**
۱ـ هر انسان حق لري څو د خپلې استوګنې له دایمي سیمې او کور څخه د مستبدانه بې ځایه کیدو پر وړاندې تر ملاتړ لاندې ونیول شي.
۲ـ په مستبدانه بې ځایه کیدو کې په لاندې حالاتو کې بې ځایه کیدل شامیلیږي:
الف: هغه وخت چې د اپار تاید (قومي پاکونې) یا مشابه چلندونو پر بنسټ وي یا د اغیزمن شویو افرادو په قومي، نژادي یا مذهبي ترکیب کې د بدلون په موخه وي او یا د دې ډول بدلونونو سبب شي؛
ب: د وسلوالو نښتو په شرایطو کې، مګر دا چې د ملکي وګړو خوندیتوب یا قومي دلیلونه دا ډول، هیله یا حکم وکړي؛
ج: د پراخو پرمختایي پروژو په صورت کې چې د قانع کوونکو او مهمو دلیلونو او د خلکو د ګټو پربنسټ تو جیه شوې نوې؛
د: د حوادثو د پیښیدو په صورت کې، مګر دا چې د اغیزمن شویو افرادو د روغتیایي حالت د خوندیتوب لپاره اړین وي؛ او
هـ: کله چې د هغه نه د ډلیزې سزا ورکولو په توګه ګټه واخستل شي.

۳- بې ځايه کيدل بايد له هغه وخت څخه چې شرايط يې ايجابوي، ډير دوام ونه کړي.

**اووم اصل**

۱- د هر ډول تصميم له نيولو څخه مخکې چې د افرادو بې ځايه کيدل لازمي کوي، اړوندې ادارې بايد ډاډ تر لاسه کړي چې ټول ممکن بديلونه له ټوليزې بې ځايه کيدنې څخه د مخنوي په منظور ولټول شي، د بديلونو د نه شتون په صورت کې د ې ټول تدبيرونه د بې ځايه کيدو او د هغو د ناوړه اغيزو د کمولو لپاره ونيول شي.

۲- هغه ادارې چې دا ډول بې ځايه کيدنه په عهده نيسي، بايد، تر هغه ځايه پورې چې عملي وي، ډاډ تر لاسه کړي چې بې ځايه شويو ته په پراخه کچه د استوګنې مناسب ځای برابر شي، دا ډول بې ځايه کيدل د خونديتوب، تغذيې، درملنې او روغتيا له پلوه په قناعت وړ شرايطو کې تر سره او د يوې کورني غړي يو له بل څخه جلا نشي.

۳- هر کله چې بې ځايه کيدنه، پرته له بيړنيو حالاتو، وسلوالو نښتو يا حوادثو څخه تر سره کيږي، بايد له لاندې ضمانتونو سره مل وي:

الف: د هغې ادارې پوسيله چې د قانون د حکم له مخې د دې شان تدبيرونو د نيولو واک لري د لازمو اقداماتو په اړوند دې ځانګړی تصميم ونيول شي؛

ب: کافي تدبيرونه دې ونيول شي چې هغه خلکو ته چې بې ځايه کيږ ي د بې ځايه کيدو د دليلونو او پروسيجرپه اړه او، که چيرې د تطبيق وړ و ي، د بې ځايه کيدونکو د زيان جبران او ليږدولو په اړه د پوره معلوماتو ورکول تضمين شي؛

ج: د هغو خلکو چې بې ځايه کيږي آزاد او آګاهانه هوکړه دې ولټول شي؛

د: اړوندې اداري دې هڅه وکړي زيانمن شوي افراد، په ځانګړې توګه ښځې، له يوې سيمې څخه بلې ته د هغو د ليږدولو په پلان جوړولو او سازمان ورکولو کې شريک کړي؛
هـ: په هغو ځايونو کې چې اړتيا ورته ليدل کيږي د واکمنو حقوقي ادارو پوسيله دې د قانون د تطبيقولو لپاره اقدامات وشي؛ او
و: د زيانونو د اغيزمن جبيره کولو حق، له هغې جملې څخه د قضايي مناسبو ادارو په وسيله د دې ډول پريکړو بيا کتنې، ته دې درناوی وشي.

**اتم اصل**

بې ځايه کيدل بايد په داسې بڼه تر سره نشي چې د بې ځايه شويو افرادو د ژوند، عزت، ازادۍ، او امنيت حق نقض کړي.

**نـهم اصل**

دولتونه د بومي خلکو، لږکيو، بزګرانو، کليوالو خلکو او نورو ګروپونو چې له خپلو ځمکو سره تړاو لري، د بې ځايه کيدو نه د مخنيوي لپاره ځانګړي مکلفيتونه لري.

## دريم فصل
## د بې ځايه کيدو په جريان کې په ملاتړ پوري اړوند اصول

**لسم اصل**

1. هر انسان په ذاتي توګه د ژوند حق لري چې بايد د قانون پوسيله تري ملاتړ وشي. هيڅوک بايد په خپل سري توګه له ژوند څخه بې برخې نکړای شي. کورني بې ځايه شوي بايد په ځانګړې تو ګه له لاندې پېښو څخه خوندي پاتي شي:
الف : نسل وژنه؛
ب: قتل؛
ج: پر ته له محاکمې له پخپل سر اعدامو ل؛ او
د: جبري ورک کول،له هغې جملې سړي تښتونه يا غير رسمي بندي کول، تهديدول يا هغه تهديدول چې د وژونې سبب کيږي.
د پورته ذکر شويو کړنو د تر سره کولو لپاره تهديدول او تحريکول دې منع شي.
2. د کورنيو بې ځايه شويو پر ضد بريدونه يا تاو ترلخوالی، چې په دښمنيو کې ښکيل نه دي او يا نور په کې ښکيل نه دي ، په هرډول شرايطو کې منع دي. له کورنيو بې ځايه شويو څخه بايد په ځانګړې توګه د لاندې کړنو پروړاندې ملا تړ وشي:
الف: مستقيم بريدونه يا بې توپيره بريدونه يا تاو تريخوالي لرونکي کړني، له هغې جملې څخه د داسي سيمو ايجادول چې له هغو څخه پرملکي افرادو د بريدونو زمينه مساعده وي؛
ب: ديوه جګړه ييز چلند په توګه د هغوی وږي ساتل؛
ج: د بريدونو پروړاندې د پوځي موخو د سپر په توګه ، د دفاع په منظور يا د ګټې اخستنې او يا د پوځي عملياتو د مخنيوي په خاطر له هغوی څخه ګټه اخيستل؛
د: د دوی د کمپونو او يا ميشتځايونوپر وړاندی بريدونه؛ او
ه: د پرسونل ضد ځمکنيو ماينو نو څخه استفاده کول.

**یو ولسم اصل**

۱- هر انسان د انساني کرامت او د جسمي، روحي او اخلاقي خوندیتیوب حق لري.

۲- کورني بې ځایه شوي دې پرته له دې چې د هغوی ازادي محدوده شوې که نه، په ځانګړې توګه د لاندې کړنو پر وړاندې وساتل شي:

الف: جنسي تیری، د بدن دغړو پریکول، ځورول، غیر انساني یا تحقیرونکي بد چلند یا سزا، او له فردي عزت سره ناسمې نورې کړنې لکه جنسي تاو تریخوالی، جبري فحشاء او هر ډول نور ناوړه بریدونه؛

ب : مریه توب یا یې اوسنۍ بڼې، لکه د ودولو لپاره پلورل، جنسي ګټه اخیستل یا د ماشومانو جبری کار؛ او

ج: د کورینو بي ځایه شویو په منځ کې د ډار خپرولو په مقصد تاوتریخوالی لرونکې کړنې.

د پورته ذکر شویو کړنو د تر سره کولو لپاره تهدیدول او هڅول منع دي.

**دو لسم اصل**

1- هر انسان د ازادۍ او شخصي امنیت حق لري، هیڅوک باید پخپل سري توګه ونه نیول شي یا بندي نه شي.

۲- له دې ډول حق څخه د بې ځایه شویو د برخمن کیدو په منظور دې، هغوی په کمپونو کې کلا بند یا توقیف نه شي. که په استثنایي شرایطوکي دا شان وضعه په مطلقه توګه اړینه وي، له هغه نه دې چې شرایط یې غوښتنه کوي ډیر دوام ونه کړي.

3- بې ځایه شوي دې د خپلو بې ځایه کیدو په پایله کې له توپیر لرونکې نیونې او توقیفولو څخه خوندي پاتي شي.

4- کورني بې ځایه شوي دې په هیڅ حالت کې یرغمل و نه نیول شي

**دیارلسم اصل**

۱- بې ځايه شوي ماشومان دې په هيچ راز شرايطو کې په وسلوالو ځواکونو کې نه استخداميږي او په جګړو کې د ګډون اجازه نه ورکول کيږي او بايد له هغوی څخه غوښتنه و نه شي چې په جګړو کې ګډون وکړي.

۲- کورني بې ځايه شوي دې د بې ځايه کېدو له امله په وسلوالو ځواکونو يا ګروپونو کې د استخدام د تو پير لرونکو کړنو پر وړاندې ترملاتړ لاندې ونيول شي. په ځانګړې توګه هر ډول بې رحمانه، غير انسانی او حقارتکونکې کړنې چې د دې استخدام اطاعت جبري کوي او يا يې نه اطاعت ته سزا ورکوي ، په هر ډول شرايطو کې، منع دي.

**څوارلسم اصل**

۱- هر کورنی بې ځايه شوی د خپلې استوګنې د ځای د ټاکلو او د ګرځېدو را ګرځېدو د آزادئ حق لری.

۲- په ځانګړې توګه، کورني بې ځايه شوي حق لري څو په ازاده توګه په کمپ او نورو ميشت ځايونو د ننه او بهر کې وګرځي.

**پنځلسم اصل**

کورني بې ځايه شوي لاندې حقونه لري:

الف: د هيواد په نورو بر خوکې د خونديتوب د لټون حق؛

ب: د خپل هيواد د پرېښو دلو حق؛

ج: په نور و هيواد ونوکې د پناه غوښتلو حق؛ او

د: په هغو سيمو کې چې د هغوی ژوند، خونديتيوب، ازادي او روغتيا په خطر کې وي، د جبري ستنولو او بيا پر ځای کولو پر وړاندې د ملا تړ حق.

**شپاړلسم اصل**

۱- ټول کورني بې ځايه شوي حق لري څو د خپلو ورکو شويو خپلوانو د برخليک او د اوسيدو د ځای په اړه معلومات تر لاسه کړي.

۲- اړوندې ادارې دې د ورکو شويو کورنيو بې ځايه شويو د او سيدو د ځای او برخليک ټاکلو په منظور هڅه وکړي او له اړوند و نړيوالو موسسو سره چې دادنده پر غاړه لري همکاري وکړي. اړوندې ادارې دې دخپلو پلټنو له پر مختګ څخه دهغوی نژدې خپلوانو ته اطلاع ورکړي او د خپل کار پايلې دې هغوی ته ابلاغ کړي.

۳- اړوندې ادارې دې د مړو شويو افرادو د پاتې جسدونو د موندلو او تشخيصولو لپاره هڅه وکړي، د غړو له پريکو لو او جسدونو د له منځه وړلو څخه دې مخنيوی ورکړي، د هغو ليږدول دې نژدې خپلوانو ته اسانه او يا يې دې په درنښت سره خاورو ته وسپاري.

۴- د کورنيو بې ځايه شويو هديرو ته دې په هر ډول شرايطو کې درناوی وشي او د هغو ساتنه دې و شي. کورني بې ځايه شوي بايد د خپلو مړو شويو خپلوانو هديرې ته د لاسرسی حق ولري.

**اوه لسم اصل**

۱- هر انسان حق لري څو د هغه د کورنۍ د ژوند حق ته درناوی و شي.

۲- د دې حق د تحقق لپاره، د کورنيو بې ځايه شويو د کورنۍ غړي به اجازه و لري څود خپلو هيلومطابق يو له بل سره ګډ ژوند وکړي.

۳- هغه کورنۍ چې د بې ځايه کيدو له امله يو له بل څخه جلا شوي دي، بايد په ډېر ژر ممکن صورت کې يو له بل سره يو ځای کړای شي. ټول مناسب تدبيرونه به د دې ډول کورنيو د چټکې يو ځای کېدنې لپاره، په ځانګړې توګه هغه مهال چې ماشومان

مطرح وي، ونيول شي. مسوولې اداري دي د کورنيو د غړو لخوا د ورکو شويو غړو لټون او پوښتننه تسهيل کړي او د بشري سازمانونو کار دې، چې د کورنيو د بيرته يوځای کولو لپاره کار کوي، وهڅوي او همکاري دی ورسره وکړي.

۴- د بې ځايه شويو کورنيو غړي چې د اوسيدو لپاره په کمپونو کې کلابند شوي دي، حق لري چې يوځای سره پاتې شي.

**اتلسم اصل**

۱- ټول کورني بې ځايه شوي په مناسبه کچه د ژوند کولو حق لري.

۲- واکمنې اداري دې، د شرايطو له په پام کې نيولو او هر ډول توپير څخه پرته، حد اقل لاندې مواردو ته د کورنيو بې ځايه شويو لاسرسی تامين کړي:

الف: د خوړو اړين توکي او د څښلو اوبه؛

ب: د استوګنې بنستيزځای؛

ج: مناسب پوښاک؛ او

د: روغتيا ساتنه او اړين روغتيايي خدمتونه.

۳- د بنسټيزو اړتياوو د پلان جوړولو او ويشلو په بهير کې د ښځو د بشپړ ګډون په منظور، بايد لازمې هڅې وشي.

**نولسم اصل**

۱- ټول بې ځايه شوي ټپيانو، ناروغانو او معيوبينوته دې، تر ورستې ممکنې اندازې پورې او تر ممکنې کچې لږځنډ سره هغه روغتيايي خدمتونه اوپاملرنه چې اړتيا ورته لر ي، پرته له هر ډول توپير څخه، مګر چې د روغتيايی اړتيا پر بنسټ وی، تامين شي. د اړتيا پر مهال دې بې ځايه شوي، رواني او ټولنيزو خدمتونو ته لاسرسی ولري.

۲- د ښځو روغتيايي اړتياوو، له هغې جملې څخه ښځينه روغتيايي کارکوونکو او روغتياي خدمتونو ته لاسرسي لکه: د مور او ماشوم روغتيا پالنه، د نا جايزې جنسي ګټې اخيستنې او نورو

ناوړو چلندونو قربانیانو لپاره مناسبې مشورې ورکولو، ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.
۳ـ همداراز د کورنیو بې ځایه شویو په منځ کې د ساري او انتاني ناروغیو، له هغې جملې ایدز، مخنیوي ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.

**شلم اصل**

۱ـ هر څوک حق لري چې د قانون پر وړاندې په ټولو ځایونو کې د انسان په توګه وپیژندل شي.
۲ـ د کورنیو بې ځایه شویو د دې حق د تحقق لپاره دې ، اړوندې ادارې اړین سندونه لکه: پاسپورت، د پېژندنې کارت، د زیږېدو تصدیق او نکاح خط له قانوني حقونو څخه د هغوی د ګټې اخیستنې لپاره ورته ورکړي. په ځانګړې توګه، دا ادارې دې د نویو سندونو یا د بې ځایه کیدو پر مهال د ورکو شویو سندونو د صادرولو زمینه د هر ډول غیر منطقي شرایطو له تحمیلولو څخه پرته، لکه: د سندونو د لاسته راوړلو لپاره د معمولي اوسیدنې ځای ته د هغوی بیرته ستنول، برابره کړي.
۳ـ ښځې او نارینه دې په برابره توګه حق ولري څو دا ډول اړین سندونه تر لاسه کړي او حق دې ولري څو دا سندونه د هغوی په خپل نامه صادر شي.

**یو ویشتم اصل**

۱ـ هیڅوک پخپل سرله ملکیت او په هغه کې له تصرف څخه نه شي بې برخې کیدای.
۲ـ د کورنیو بې ځایه شویو له ملکیت او شتمنې څخه دې په ټولو شرایطو کې ملاتړ وشي، په ځانګړې توګه د لاندې مواردو پر وړاندې:
الف: لوټول (غارتول)

ب: مستقیم یا پرته جلا کولو (تفکیک) څخه بریدونه یا نورې تاو تریخوالي لرونکي کړنې؛
ج: د پوځي موخو یا عملیاتو پر وړاندې د سپر په توګه ترې استفاده؛
د: د ترسره شوي عمل د غچ اخیستنې په منظور ترې استفاده؛ او
هـ: د ډلیزې سزا په ډول له منځه وړل یا په غیر قانوني توګه یې اخستل.

**دوه ویشتم اصل**

له کورنیو بې ځایه شویو سره دې، پرته له دې چې په کمپونو کې ژوند کوي یا نه، له لاندې حقونو څخه په برخمن کېدو کې توپیر ونه شي:
الف: د فکر، ضمیر، مذهب یا عقیدې، نظر او بیان د ازادۍ حق؛
ب: د کاري فرصتونو د ازادانه لټون او په اقتصادي فعالیتونو کې د ګډون حق؛
ج: په ټولنیزو چارو کې د برابرې ونډې او ازادانه ګډون حق؛
د: په دولتي او عامه چارو کې د ګډون او رایې ورکولو حق، له هغې جملې څخه لدې حق څخه د استفادې په منظور اړینو وسیلو ته د لاسرسي حق؛ او
هـ: پکومه ژبه چې پوهیږي په هغې د پوهیدلو او پوهولو حق.

**درویشتم اصل**

۱ـ هر انسان د زده کړې حق لري.
۲ـ د کورنیو بې ځایه شویو د دې حق د تحقق په منظور، اړوندې ادارې باید ډاډ تر لاسه کړي چې دا ډول اشخاص، په ځانګړې توګه بې ځایه شوي ماشومان، د ښوونې او روزنې له حق څخه چې په لومړنۍ دوره کې اجباري او وړیا وي، برخمن شي. زده کړې باید داسې وي چې د هغوی فرهنګي هویت، ژبې او مذهب ته درناوی وشي.

۳- د زده کړو په برنامو کې باید د ښځو او نجونو له بشپړ او برابر ګډون څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور، ځانګړې هڅې وشي.
۴- د کورنیو بې ځایه شویو، په ځانګړې توګه د ښحو او ځوانانو، لپاره دې ، که په کمپونو کې اوسیږي یا نه اوسیږي، د شرایطو د سمون سره سمدستي تعلیمي او د زده کړو مرکزونو ته د هغوی د لاسرسی زمینه برابره شي.

## څلورویشتم اصل

۱- ټولې بشري مرستې دې د بشرپالنې او ناپلوی د اصولو مطابق او پرته له توبیر څخه تر سره شي.
۲- د کورنیو بې ځایه شویو لپاره په پام کې نیول شوې بشري مرستې دی، په ځانګړې توګه د سیاسي یا پوځي دلیلونو له مخې، نورو اشخاصو ته نه ورکول کیږي.

## پنځه ویشتم اصل

۱- کورنیو بې ځایه شویو ته د بشري مرستو د رسولو لومړنی دنده او مسئولیت د ملي ادارو پر غاړه دی.
۲- نړیوال بشري سازمانونه او نورې اړوندې ادارې حق لري څو کورنیو بې ځایه شویو ته خبل خدمتونه وړاندې کړي. د دې خدمتونو وړاندې کول دې د غیر دوستانه عمل او یا د یوه هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه ګڼل شي او د ښه نیت څرګندویه دې وګڼل شي. له دې امله د دې ډول فعالیتونو د تر سره کولو لپاره له توافق نه باید پخپل سر ډډه و نه شي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې اړوندې ادارې نه شي کولی او یا نه غواړي لازمې بشري مرستې ترسره کړي.
۳- ټولې اړوندې ادارې دې د ازادانه بشري مرستو د تر سره کولو زمینه برابره کړي او هغو اشخاصو ته چې د دې ډول مرستو په وړاندې کولو کې ونډه لري، کورنیو بې ځایه شویو ته د هغوی د لاسرسی زمینه پرته له ممانعت څخه په چټکه توګه برابره کړي.

**شپږ ويشتم اصل**

هغه اشخاص چې په بشري مرستو کې دخيل دي، د هغوی ترانسپورتي وسيلو او مالونو ته دې درناوی وشي او ملاتړ دې تر وشي. هغوی بايد د بريدونو او دنور تاو تريخوالي لرونکو کړنو موخه ونه ګرځول شي.

**اووه ويشتم اصل**

۱- کورنيو بې ځايه شويو ته د مرستو د برابرولو پرمهال، نړيوال بشري سازمانونه او نورې اړوندې ادارې بايد د هغوی حقوقي اړتياوو او بشري حقونو ته لازمه پاملرنه وکړي او په اړه دې مناسب اقدامات وکړي. د دې فعاليتونو د ترسره کولو پرمهال، دا سازمانونه بايد نړيوال معيارونه او اخلاقي موازين رعايت کړي.

۲- د دې اصل لومړی فقره د نړيوالو سازمانونو د ملاتړ پرمسوليتونو چې په همدې منظور ماموريت لري او د حکومتونو له خوا يې د خدمتونو د وړاندې کولو هيله کيږي، اغيز نه لري.

## پنځم فصل
## بیرته ستنیدو، بل ځا ی میشته کیدو او بیا استقرار پوري اړوند اصول

### اته ویشتم اصل
۱ـ واکمنې اداري د کورنیو بې ځایه شویو لپاره د هغو شرایطو او وسیلو د برابرولو لومړۍ درجه مسوولیت او دنده پر غاړه لري چې هغوی برلاسي کړي څو په داوطلبانه، خوندي او عزتمنه توګه د خپلو اوسیدو دایمي سیمو ته ستانه شي او یا د هېواد په نورو سیمو کې ژوند غوره کړي. دا اداري هڅه کوي څو د اسانتیاوو د برابرولو زمینه هغه شمیر کورنیو بې ځایه شویو ته چې بیرته ستانه شوي یا په نورو سیمو کې ځای پر ځای شوي، برابره کړي.
۲ـ د کورنیو بې ځایه شویو له بشپړ ګډون او د هغوی له ونډې اخیستنې څخه د بیرته ستنیدو، بل ځای میشته کیدو او بیا استقرار د بهیر په پلان جوړولو او تنظیمولو کې د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره دې ځانګړې هڅې وشي.

### نهه ویشتم اصل
۱ـ هغه شمیر کورني بې ځایه شوي چې خپلو کورونو او دایمي استوګن ځایونو ته ستانه شوي دي او یا یې د خپل هېواد په نورو سیمو کې اوسیدل غوره کړي دي، د بې ځایه کېدو له امله دې له هغوی سره تبعیض ونه شي. هغوی حق لري په عامه چارو کې په برابره توګه په ټولو کچو ونډه واخلي او عامه خدمتونو ته برابره لاسرسي ولري.
۲ـ واکمنې اداري مکلفې دي څو هغه شمیر کورني بې ځایه شوي چې بیرته د خپلو اوسیدو سیمو ته ستانه شوي دي او یا په نورو سمیو کې ځای پر ځای شوي دي، تر ممکنه بریده د هغو ملکیتونو د مستردولو په اړه، چې له دوی څخه پاتي وو او یا یې د

بې ځایه کیدو پر مهال له واک څخه وتلي وو، له هغوی سره همکاري وکړي. په هغه صورت کې چې د دې ډول ملکیتونو بیرته ورکړه ممکنه نه وي، واکمنې ادارې دې د مناسبې او منصفانه خسارې د جبرانولو زمینه ورته برابره کړي.

**دیرشم اصل**

ټولې اړوندې ادارې دې، بشري نړیوالو سازمانونو او نورو بشري ارګانونو ته د هغوی د اړوند ماموریت په جریان کې، د کورنیو بې ځایه شویو د بیرته ستنیدو، بل ځای میشته کیدو او بیا استقرار په برخه کې، پرته له ممانعت څخه هغوی ته د چټکې لاسرسی زمینه برابره کړي.



UNHCR
United Nations High Commissioner for Refugees
Haut Commissariat des Nations Unies pour les réfugiés